# د تاریخ سبق او د تاریخ جبر

## (د ونسټن چرچل "ملاکنډ فیلډ فورس" په پښتو کښې)

امجد شهزاد

تاریخ دانان وائي چې د تاریخ مثال د انسان یادداشت دے. کله چې یو انسان خپل یادداشت وبائلی نو دے په دې نۀ وی خبر چې زۀ څوک یم، د چا زوے یم، د چا ورور یم، څۀ مې نوم دے، کوم مې کور دے، څوک مې دوست څوک دښمن دے. ایا دغه سړے په یوه انساني ټولنه کښې د معمول ژوند کولے شي یا د نورو خلقو سره د ژوند په زغل کښې یو شان تګ کولے شي. ښکاره خبره ده چې دا خبره هیڅ امکان نۀ لري نو چې یو انسان دپاره دا ممکن نۀ دي نو د یو قام دپاره دا څنګه امکان لري چې هغه دې په داسې حال کښې چې د خپل ماضي نه په صحیح توګه خبر نۀ وي او دے دې د دنیا د نورو قامونو سره د ژوند په زغل کښې شامل شي.

د بد قسمتۍ نه د پښتون قام یوه لویه برخه کومه چې په پاکستان کښې ژوند کوي د یوې منصوبې لاندې د خپل پرون نه، د خپل ماضی نه او د خپل تاریخ نه لرې ساتلې شوې ده. زما پښتون بچي ته د مېجر عزیز بهټي د دروغو د بهادرۍ قیصې خو په زور زوتولې او یادولې کېږي خو د سر تور فقیر ذکر ورته څوک نۀ کوي. د مسټر جناح د تدبر او فهم و فراست قیصې ورته ګوټه کولے شي خو د باچا خان نوم ورته څوک نۀ یادوي. زما ماشوم ته ټول عمر د عربو غازیانو او شهیدانو تاریخ یادولے شي خو د قیصه خوانۍ او بابړې شهیدان ورته هیڅوک نۀ یادوي.




دا د تاریخ جبر دے او جبر نازولے دے

او دا پرې لا د پاسه چې زما اتلان ماته د غدارانو په شکل کښې پېش کوي. اندېش صیب وائي:

ماته تمغه د بادرۍ تړي خو شرط ئې دا دے
چې به د دې خاورې اتل ته اتل نۀ وایمه

دې ته به د پښتون قام بد نصیبي ووایو چې د تاریخ په یو اوږد دور کښې څنې عالمي قوتونو د دوي مخه ونیوه چې دوي د قبائلي ټولنې متمدن ژوند ته رانۀ شي، ځکه چې د پښتنو پسمانده پاتې

کېدل د هغوي په مفادو کښې وو. قبائلي ژوند د تهذيب په اوږدو کښې د وروستو پاتې کېدو او پسماندګۍ علامت دے.

په يو داسې وخت کښې چې پښتون من حېث القوم د خپل تاريخ نه لرې ساتلے کېږي د شهباز محمد دا هڅه ډېره د داد او تسلۍ وړ ده بلکې دې کوشش ته مونږ په تکه توره تيارۀ کښې د يو چراغ په نظر ګورو. کله چې مونږ دې حقيقت ته ګورو چې مونږ خپل تاريخ ته ډېر کم په خپل نظر د کتلو جوګه يو، مجبور يو چې دغه د پرديو خلقو ليکلي تاريخونه ولولو، وې څېړو او يوه سائنسي او حقيقت پسندانه تجزيه ئې وکړو. خپل ښۀ روايات د ځان سره واخلو او بدې تجربې سر دوباره ونۀ کړو.

زمونږ د دې پښتني سيمې د تاريخ په حواله د ډاکټر خالق زيار د "دا خاوره او دا خلق او د پښتنو بغاوتونه" دوه ترجمه شوي کتابونه او د ظاهر شاه خان ژباړلے کتاب د "چترال معرکه" د ستائنې وړ دي. خو د دې کتاب اهميت ماته ځکه د ټولو نه سبوا ښکاري چې د دې کتاب مصنف د ادب سره سره د آرټ، سپاه ګرۍ، ادب، صحافت او سياست يوه معتبره حواله ده او په دغه ټولو حوالو د دنيا په تاريخ کښې يو اوچت، جوت او ياد مقام لري. د دې کتاب مصنف د برطانيې په وزير اعظمانو کښې يواځينے سړے دے چې په دې کتاب او دغسې نورو کتابونو ليکلو ورته په کال ۱۹۵۴ء کښې د ادب نوبل انعام ورکړے شوے دے.

د ونسټن چرچل خاندان د ادب، صحافت، سياست او فنون حرب په مېدانونو کښې يو ښکاره مقام لري. د دۀ پلار لارډ رېنډولف چرچل (Lord Randolph د ډيوک آف البرو اووم زوے او مشهور سياست دان ؤ. د دۀ مور جينې جېروم (Jennie Jerome) د لېونارډ جېروم لُور وه چې په يوه زمانه کښې د "نيويارک ټائمز" مالک او مدير وۀ. زۀ په دې حواله نور په تفصيل کښې تلل نۀ غواړم خو د دې کتاب د اهميت په حقله تاسو ته يوه معتبره حواله او واقعه رانقل کول غواړم.

کله چې دا کتاب چاپ شو نو هغه وخت ډېر زيات خرڅ هم شو او مشهور هم، تر دې چې پرنس آف ويلز (څوک چې وروستو اووم ايډورډ جوړ شو) ونسټن چرچل ته يو خط وليکو، وزيراعظم لارډ سيلز بري چرچل اسکواډرن سټريټ ته وغوښتو او دغه خط ئې ورته حواله کړو. زۀ تاسو ته دلته د دغه خط خلاصه وړاندې کوم.

ونسټن! ستا په کتاب کښې زما ډېره دلچسپي وه ځکه مې په ډېر شوق ولوستو، د لوستو نه پس کۀ زۀ د دې تعريف وکړم نو بې ځايه به نۀ وي، په موجوده حالاتو کښې په دواړو هاؤسونو کښې د انډين فرنټيئير د پاليسۍ متعلق بحثونه ډېر په زور او شور روان دي. په دغه درو کښې د جنګ په وجه چې څۀ کېږي، ستا د تحرير په وجه زۀ د هغه ځائے د اصل تصوير کتلو جوګه شوم. اوس به زۀ سوچ کوم چې مونږ ته څۀ کول دي. ځکه ستا د کتاب کتلو نه پس زۀ د نورو دستاويزاتو په مقابله کښې دې ته ډېر اهميت ورکوم".

د دې کتاب د اهميت اندازه د دې نه ولګوئ چې په برطانيه کښې ناست د نيمې دنيا حکمرانان د دې سيمو پاليسي د دې کتاب په رڼا کښې ترتيبوي. دا دومره اهم او قيمتي کتاب ملګري شهباز محمد په ډېره شېرينه، روانه او ساده پښتو کښې ستاسو دپاره ترجمه کړے دے. دا کار چې په

نورو وطنونو کښې څوک کوي نو ورته د بې شمېره اسائشونو سره سره لکونه روپۍ ورکولے شي خو زمونږ دې ورور دا دومره ډېر لوئے کار بغېر معاوضې نه کړے دے. اوس کۀ هم تاسو او مونږ ټول د دۀ احسان نۀ منو نو زياتے به کوو. زمونږ دغه نور وروڼه اعجاز قاسم، ارشد کريم، اقبال شاکر او د دوی ټول ملګري هم په دې موقعه د داد قابل ګڼم چې د شهباز محمد دغه زيار ئې پښتنو دپاره په کتابي شکل کښې چاپ کړو.

دلته زۀ يو دوه خبرې د اعجاز قاسم صېب او محمد نواز طائر صېب په تبصرو کول غواړم.

اعجاز قاسم صېب وائي چې: "دا کتاب ښودنه کوي چې لکه د نن په شان يو مېدان اګاهو هم لګېدلے ؤ، سټېج او ننداره هم هغه ده خو مصداق د زاړۀ شراب په نوی جام کښې".

قدرمن نواز طائر صېب هم نزدې نزدې دغه خبره په خپله تبصره کښې کړې ده. "په دې چې رويې ئې هاغه دي، سټېج هم هاغه دے ولې کردارونه بدل دي".

مونږ د اوسنو حالاتو د هغه دور د حالاتو سره د جنګ نه علاوه په کومو مشترکه قدرونو مقابله کوو؟ هغه وخت خو حالات دا وو چې يو بهرنے استعمارګر راغلے، په دې خاوره ئې يرغل کړے او د دې خاورې بچو ئې په نره مزاحمت کړے دے خو دا نننۍ لوبه دومره ساده نۀ ده چې مونږ ئې دومره په اسانه د شپږ شلې کاله دغه پخوانو حالاتو سره موازنه وکړو. د نننۍ لوبې پس منظر او پېش منظر او کردارونه د هغه لوبې نه ډېر مختلف دي. هغه وخت د دې خاورې بچې د دې وطن د ابادۍ او ازادۍ دپاره راپاڅي او ټول قام ئې په شا ولاړ وي او نن يو موټے خرڅ شوي خلق راپاڅي خپل وطن ورانوي چې پوره اولس ئې مخالف دے. د دې ماشوړې سرونه او لړونه ډېر لرې لرې تلي دي زما په خيال دا موقعه ډېره مناسبه نۀ ده چې زۀ ئې تفصيل بيان کړم.



زۀ د طائر صېب د دې خبرې سره هم اختلاف لرم چې ګڼي پښتون فطرتاً يو ناعاقبت اندېشه مزاج لرونکے قام دے. پښتون په مجموعي توګه ډېر مهذب، پوهه او هوښيار قام دے. دغه ناعاقبت اندېشه مزاج د ټول قام نۀ دے، د يوې برخې دے او د دې په شا هم خپل عوامل دي. پکار ده چې پښتون قام ته ناعاقبت اندېشه وئيلو سره سره طائر صېب د دغه عواملو ذکر هم کړے وے.

بهر حال زۀ شهباز محمد او هغه ټولو ملګرو ته چې د دې کتاب په سرځښه کښې ئې لږ هم زيار ګاللے دے، مبارکي وايم او د دې باشعوره او حساسه ملګرو نه دا طمع لرم چې دا سفر به روان او دوام دار وساتي او دې قام ته به خپله صحيح څهره، خپل صحيح تاريخ راوړاندې کړي. دا زمونږ ټولو شريکه ذمه واري ده.

(دا مضمون په ۱۸ اکتوبر کښې په الـه ډنډ ملاکنډ ايجنسۍ کښې د ياران قلم پښتو ادبي ټولنې لخوا د کتاب د مخکتنې په دستوره کښې واؤرولے شو).